ډېرې ښځې د محمد ﷺ کورنۍ ته راغلې او د خپلو خاوندانو څخه شکایت کوي، دا کسان ستاسو له غوره خلکو څخه نه دي

له إِيَاسِ بْنِ عَبْدِ اللَّهِ بْنِ أَبِي ذُبَابٍ رَضيَ اللهُ عنه څخه روایت دی وایې چې رسول الله ﷺ فرمایلي: «د الله وینځې مه وهئ». بیا عمر رضي الله عنه رسول الله صلي الله علیه وسلم ته راغی او ویې ویل چې: ښځې پر خپلو مېړونو زړورې شوې دي، نو هغه د وهلو اجازه ورکړه، خو وروسته ډېرې ښځې د رسول الله ﷺ کورنۍ ته راغلې او له خپلو مېړونو یې شکایت وکړ، نو نبي ﷺ وفرمایل: «ډېرې ښځې د محمد ﷺ کورنۍ ته راغلې او د خپلو خاوندانو څخه شکایت کوي، دا کسان ستاسو له غوره خلکو څخه نه دي».

[صحیح دی] [ابو داود او ابن ماجه روایت کړی دی]

نبي ﷺ د ښځو له وهلو منع وکړه، نو امیرالمؤمنین عمر بن الخطاب رضي الله عنه راغی او ویې ویل: ای د الله رسوله! ښځې پر خپلو مېړونو زړورې شوې دي او اخلاق یې خراب شوي دي. نو رسول الله ﷺ د لاملونو پر مهال د ښځو لږ وهلو ته اجازه ورکړه، د بېلګې په توګه که چېرته د مېړه د حق له ادا کولو څخه سر غړاوی وکړي، او یا دې ته ورته حالتونه. بیا ډېرې ښځې د نبي ﷺ د مېرمنو خواته راغلې او شکایت یې وکړ چې مېړونه یې سختې وهي او له دې اجازې ناوړه ګټه اخلي، نو رسول الله ﷺ وفرمایل: هغه سړي چې خپلې ښځې سختې وهي، ستاسو له غوره خلکو څخه نه دي.

http://www.sunnah.global/hadeeth/ps/show/5821